# هغه ۱۹ شیان چې تاسو باید یې په متحده ایالتو کې د بیا میشتیدنې په اړه پوهیږئ

## د امریکا متحده ایالاتو ته ښه راغلاست!

دا سند تاسو سره د امریکا متحده ایالاتو کې د خپل نوي ژوند په برابرولو کې مرسته کولو لپاره جوړ شوی دی. په ګرده متحده ایالاتو کې د بیا میشتیدنې د غیر انتفاعي یا غیر ګټې ادارو څخه مسلکي کارکوونکي د کډوالو او د ځانګړي مهاجرتي ویزه (SIVs) ګټه اخیستونکي چې له مخکې بیا میشت شوي دي، د لومړني اندیښنو مسلو په اړه مهم ټکي پیژندلو لپاره سره یو ځای کار کوي. دا وړاندیزونه بیا د بهرنیو چارو وزارت د وګړو، کډوالو او مهاجرت اداري لخوا د یوې وسیلې په توګه راټولیږي چې تاسو سره د مرسته کولو پخاطر د ډیرو نویو تجربو په اړه تاسو ته خبر درکړي چې تاسو ورسره مخامخ کیدای شي، څکه چې تاسو په خپل نوي کور کې بیا میشت کیږئ.

**<u>پذیرایی او ځای پرځای کول (R&P) ګټې او نوری مرستې</u>**

1) ستاسو د بیا میشتیدنې اداره او د هغې فدرالي او سیمه ایز حکومتي ملګري محدود سرچینې لري چې د رسیدو په وخت کې ستاسو سمدستي لومړني اړتیاوې پوره کړي. ستاسو لپاره موجود سرچینو اندازه به په بیلابیلو عوامل پورې اړه لري. وختي کار اخیستل او ځیرکي سره د پیسو بودیجه کول ستاسو د لومړني ځان بسیا کولو لپاره خورا مهم دي.
2) د ژوند لګښت او د عامه ملاتړ شتون په ټول امریکا کی توپیر لري. هغه مرستې چې تاسو ته درکړل کیږي به د یو ځای څخه بل ځای ته مساوي نه وي. که ستاسو ملګري په یو امریکایي موقعیت کې تاسو ته وایي چې دوی ځینې ګټې ترلاسه کوي، دا پدې معنا نه دی چې تاسو به ورته ګټې ترلاسه کړئ.
3) د کورونو د ډیر لوړ لګښتونو او د کورونو د محدود شتون له امله، **<u>یواځې د خپل میره یا میرمن، مور یا پلار، خور یا ورور، ماشوم، یا نیکه یا انا سره یو ځای کیدونکی د ځانګړی مهاجرتی ویزه (SIVs) لرونکی به د شمالی ورجینیا په سیمه کې ځای پرځای شي.</u>**
4) د واشنګټن ډي سي میټرو ساحه او په کالیفورنیا کې ځینې ښارونه د ژوند کولو لپاره خورا ګران ځایونه دي او کیدای شي چې کور او کار موندنه هلته مشکل وي. د بیا میشتیدنې ګټې چې تاسو یې هلته ترلاسه کوئ ممکن په دې سیمو کې په آسانی سره د ژوند لګښت مصرف برابر ونکړي. که تاسو خپل د سفر ترتیبات پخپله ترسره کوئ، مګر دا چې تاسو په دې سیمو کې نږدې خپلوان یا ملګري لرئ چې تاسو سره تر هغه وخت پورې دوامداره مالي ملاتړ او د هستوګنې مرسته برابروي چې تاسو کار موندلي شئ ترڅو چې ستاسو د ژوند لګښتونه تر پوښښ لاندې راوړي، دا به غوره وي چې په امریکا کې یو بل ځای ته سفر وکړئ.

5) په امریکا کې د رارسیدلو وروسته، بل موقعیت ته کور بدلول او همدا رنګه ستاسو د امریکا ټاکل شوي ځای ته د تللو څخه انکار کول ممکن ستاسو د بیا میشتیدنې ګټې اغیزمنې کړي. په نوي ځای کې د بیا میشتیدنې اداره ممکن د ورته کچې خدمتونه او یا د نغدو پیسو مرستې د برابرولو توان ونلري. بل ځای ته د تللو پلان کولو دمخه، ډاډ ترلاسه کړئ چې د بیا میشتیدنې ادارې سره د خپل نظریې په اړه بحث وکړئ.

6) د ځانګړي مهاجرتي ویزه (SIV) ګټه اخیستونکو یا کډوالو لپاره چې د امریکا حکومت سره کار یې کول یا یې تړاو درلودل کوم غوره یا امتیازي چلند نه ورکول کیږي. د بیا میشتیدنې ګټو او خدماتو وړتیا د تابعیت، نسل، مذهب یا جنسیت له مخې اغیزمن نه کیږي.

7) تاسو اړتیا نلري چې هر څوک لکه ملګري، خپلوان او یا کوم بل سازمان ته پیسې ورکړي چې تاسې د امریکا په متحده ایالاتو کې سپانسر کړي.

8) تاسو به په امریکا کې د رسیدلو په شپږو میاشتو کې خپل د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) د سفر پور بیرته ورکولو ته پیل کړئ.

## وظیفه

9) د امریکا د کډوالو د قبول کولو پروګرام په امریکا کې ستاسو په لومړیو اوونیو کې د لومړنیو اړتیاوو سره د مرستې لپاره ډیزاین شوی دی. د کار موندنه به ستاسو لومړنی اهداف وي کله چې تاسو رارسیږئ. دا مهمه ده چې تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي انګریزي زده کړي (که تاسو دمخه په ژبه کې روان نه یاست)، مګر دا مساوي اهمیت لري چې تاسې لومړني دنده ومنئ چې ستاسو لاس ته راځي. د کار په ځای کې شته والي د انګریزي خبرې کولو د تمرین لپاره خورا ښه فرصت برابروي. څومره ژر چې تاسو کار پیل کوئ، دغومره ژر تاسو کولای شئ د خپل ژوندانه لګښتونه ادا کړئ. ډیرې کورنۍ په دې پوهیږي چې میړه او ښځه دواړه باید کار وکړي تر څو چې د هغوی کورنۍ په اقتصادي توګه ځان بسیا شي.

10) تاسو به د کارموندنې پروګرام ته راجع کیږئ او د کار موندلو په برخه کې ورسره مرسته کیږي دا مهمه نه ده چې په کوم ځای تاسو بیا میشت شوي یاست.

11) کیدای شي چې کار موندنه تر هغې زیات وخت ونیسي چې تاسو یې تمه لرئ. همدارنګه، ښېړ وخت یا تل پاتې پوستونه په لومړي ځل کې ترلاسه کول ممکن سخت وي.

12) په امریکا کې ستاسو لومړی کار ممکن هماغه مسلک یا د دندې هماغه ساحه نه وي کوم چې تاسو پخپل هیواد کې درلودلې. د امریکا پوځ یا حکومت سره پخوانۍ دندې په امریکا کې د هیڅ ډول کار تضمین نه کوي. ستاسو لومړنی دنده کیدای شي د ابتدایي یا د ننوتلو کچه غیر مسلکي دنده وي، او ممکن چې حتی لنډ مهاله یا نیمه وخته وي. تاسو کولی شئ په امریکا کې د کار مخینې جوړولو وروسته، په انګلیسي ژبه کې وړتیا ترلاسه کولو، او د اړتیا وړ بیاکتنې یا روزنې ترلاسه کولو وروسته بالاخره ستاسو په ساحه کې یو دنده ومومئ. تر هغې پورې، د ننوتلو کچه

کار، د امریکا د کاري ځای په اړه زده کړه او د هغه تجربه رامینځته کولو لپاره غوره لاره ده چې په راتلونکو کارونو کې به د کار ګومارونکو لخوا ستاینه کیږي.

## <u>کور، جامې او فرش</u>

13) لومړنۍ مرستې چې تاسو یې د کور، کورني تجهیزاتو او فرنیچر لپاره ترلاسه کوئ ډیر اساسي دي. ډیرې توکي لکه جامې او فرنیچر کیدای شي کارول شوی، دوهم لاس، یا ډیر ارزانه وي، مګر ټول برابر شوي توکي به پاک او صحي وي.
14) د امریکا دولت بیا میشتیدونکي اداري څخه غواړي چې اساسي کورني توکي او تجهیزات برابر کړي. پدې کې لوکس یا عصري توکي لکه ټلویزیون، راډیو، ټیلیفونونه، ډي وي ډي پلییر، کمپیوټرونه، برقي جاړو، بایسکلونه، موټرونه، یا ایر کنډیشنونه شامل نه دي. دا توکي ممکن موجود به وي که چیرې اداري دوی د نورو سرچینو څخه د بسپنه په توګه ترلاسه کړي.
15) اپارتمانونه د ډیرو امریکایانو لپاره د کور د ډیری لاسرسي وړ او ارزانه بڼه دي، او دا هغه څه دي چې تاسو یې په امریکا کې د خپل لومړي کور لپاره تمه ولرئ. جره یا یوازې کسان د ژوندانه د لګښتونو په ښه توګه برابرولو لپاره د ورته جنس یو یا نورو جره کسانو سره ګډ ځای پر ځای کیدای شي. که تاسو دا کار کول غواړئ، او د اجارې هر قرارداد چې تاسو یې لاسلیک کړی وي د هغې درناوی کولو سره، د کار پیل کولو وروسته چې خپل د خوښې کور لرلو وس لرئ، تاسو خپل کور بدل کړې شئ.

## <u>روغتیایي پاملرنه</u>

16) د عامې روغتیا د پاملرنې پوښښ محدود دی؛ کیدای شي چې د غاښونو یا سترګو پاملرنې شامل نه وي. دا کیدای شي چې د ډاکټر سره د یو عادي لیدني وخت ګمارنې په اونیو کې جوړه شي، که څه هم مهم روغتیایي اړتیاوې په وخت سره پوره کیږي. یو ځل چې تاسو استخدام شوئ او د شخصي طبي بیمې اخیستلای شئ، ستاسو روغتیایي پاملرنې انتخابونه به زیاتوالی ومومي.
17) په امریکا کې د رواني روغتیا یا رواني ټولنیزو خدماتو سره هیڅ ډول نانډرۍ یا بدنامي شتون نلري، او تاسو باید دا خدماتو څخه ګټه واخلئ که دوی موجود وي او تاسو فکر کوئ چې دوی به ستاسو سره مرسته وکړي. ستاسو د بیا میشتیدنې اداري سپانسر به تاسو سره د صحي پاملرنې مناسبو خدماتو په موندلو کې مرسته وکړي.

## کلتوري سمون یا تعدیل

18) په امریکا کې ستاسو لومړني کال به د تعدیل یا سمون موده وي. تاسو به په یوه نوې ټولنه کې ژوند وکړئ، نوي قوانین تعقیب کړئ، په نوي دنده کار کوئ، او نوي ملګري جوړ کړئ. د لمړیو څو میاشتو لپاره، ستاسو د بیا میشتیدنې ادارې کارکونکي به ستاسو د ژوند د بیا رغونې په هڅو کې ستاسو سره مرسته وکړي او تاسو ژر تر ژره په اقتصادي توګه ځان بسیا کولو لپاره مرسته کولو کې خپل تر ټولو غوره کار به وکړي.

19) امریکا د مختلفو نژادي او قومي سابقې لرونکي خلکو سره جوړه شوې ده، او د بیا میشتیدنې ادارې چې له کډوالو سره مرسته کوي هم په مساوي ډوله متنوع دي. ستاسو د قضیې کارکونکي ممکن د هر نسل، مذهب، قومیت یا جنسیت ښځه وي، او دوی ستاسو ترټولو غوره ګټې په ذهن کې لري.

د امریکا په متحده ایالاتو کې د اوسیدنې په موخه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دې ویبپاڼې **www.corenav.org** ته مراجعه وکړئ.